# د افغانستان د څېړنې خبر پاڼه

۲۳مه ګڼه تله /لړم




د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره

د څېړنې له لارې د افغانانو د ژوند ښه کول

# افغان ځوانان هغه تاوتریخوالی چې یوا ځې جګړې پورې منحصر نه دی او ادامه لري تجربه کوي

"په افغانستان کې د تاوتریخوالي رنځ، او رواني روغتیا" د پانتر بریک، کاترین لیکنه: په ښوونځیو کې یوه تر سره شوې سروې" لنسیټ ۳۷۴، ۹۲۹۲ ګڼه ، ۸۰۷ - ۸۱۲، د ۱۳۸۸ کال د وږې د میاشتې ۱۴، دوی ۱۰۱۲:۱۰/S۰۱۴۰ ۶۷۳۶(۰۹)۱۶۱۰۸۰

http://www.thelancet.com/journals/lancet/article/(PIIS0140 6736%2809%2961080 1/abstract PDF (268 KB

د "افغان ځوانان هغه تاوتریخوالی چې یوا ځې جګړې پورې منحصر نه دی او ادامه لري تجربه کوي" رپوټ هغه څېړنېز کارته د پای ټکی ږدي چې په نږدې وختونو کې د لینسټ (نیشتر) په نړیوال روغتیایي ژورنال کې خپور شو. دغه څېړنه په ښوونځیو والړو نوښتونو په ارزښت ټینګار کوي چې د ماشومانو رواني روغتیا، اود رنځ، تاوتریخوالي، او بدمرغۍ په ورځنیو شرایطو کې د صدمې (Trauma) پر اهمیت پوهاوی په ښه کوي.

ددغې څیړنې مالي لګښت د بریتانیې د ترټولو ستر طبي خیریه سازمان (Wellcome Trust) لخوا برابره شوې او د افغانستان د ښوونې او روزنې له وزارت څخه د رسمي موافقې څخه وروسته پلې شوه. نوموړې څېړنه د کیټرین پینټر بریک او مارک ایګرمین، د انګلستان د دورهم پوهنتون، لخوا د التیای مشورتي سازمان(ویاني ګونزالیز) او د پاکستان د پیښور پوهنتون (سارا صفدر) په مرسته په لاره واچول شوه.

په افغانستان کې څېړنو په لویانو کې د پام وړ رواني ستونزې ښودلې دي، خو دا پیښې د ماشومانو په مینځ کې لږ تر سترګو کیږي. دغه څېړنه په ځوانانو (د ۱۱ څخه تر ۱۶ کلن پورې) تمرکز کوي ترڅو د رواني روغتیا، صدمو پورې اړوندې تجربې، او تولنیزې دندې وارزوي. ددغې سروې په بهیر کې د ۱۰۱۱ ماشومانو، ۱۰۱۱ د هغوی پاملرنه کوونکو او ۳۵۸ ښوونکو سره چې په تصادفي توګه د هیواد د دریو مرکزي او شمالي سیمو (کابل، بامیان او مزارشریف) له ۲۵ دولتي فعالو ښوونځیو څخه ټاکل شوې وو تر سره شوه. د ښوونځیو په زده کوونکو کې احتمالي روحي اختلال، د خپګان نښې نښانې، د صدماتو وروسته فشارونو نښې نښانې، او د زده کونکو ټولنیزې دندو شننه وشوه لکه څرنګه چې دهغوی د پام اړونکو د رواني روغتیا شننه شوې وه. دغه شننې د ماشومانو د رواني روغتیا لپاره په خطرناکو عواملو او د صدماتو اړوند تجربو په رپوټونو تمرکز کوي.

څېړونکو د ټولو ماشومانو د څېړنې د پایلو او د صدماتو اړوندو تجربو سره د هغوی مخامخ کیدنه او د هغوی د پام اړونکو د رواني روغتیا ترمنځ تړاو وموند. شاوخوا ۲۲ په سلو کې ماشومان د احتمالي رواني اختلالاتو د ټاکل شویو معیارونو سره برابر وو چې په قوي احتما ل دا راز اختلالات په نجونو کې د هلکانو په پرتله دوه نیم ځله ډیر دي. هغو ماشومانو چې پنځه یا تر هغې ډیرې صدماتي پیښې یې ګاللې دي نو د دوی د رواني اختلالاتو د درلودولو دوه نیم برابره احتمال شته، او هغه کسان چې څلور ځله او یا تر هغه څخه کمې صدمې ګاللي، په قوي احتمال درې ځله به د صدماتو وروسته فشارونو د نښو نښانو څرګندونه وکړي. د ماشومانو د پام اړونکو د رواني روغتیا او د هغوی د پاملرنې لاندې ماشومانو د سلامتیا تر مینځ اړیکه موجوده وه: د ماشومانو د پام اړونکو د رپوټ سره سم د هر ماشوم په رواني اختلال کې ۱۰ په سلو کې د هر یوه رواني فشار د نښو نښانو د زیاتوالي احتمال شته. سربیره پردې، هغه ماشومان چې په کابل کې اوسیږي د هغو ماشومانو په پرتله چې په بامیان یا مزارشریف کې اوسیږي د رواني اختلالاتواو د صدمو وروسته فشارونو نښو نښانو د لرولو ډیر احتمال موجود وو. دغه څېړنه د تاوتریخوالي او ورځنیو بدمرغیو پر وړاندې د افغان ماشومانو دمقاومت زغم او انعطاف منلو شواهد هم وړاندې کوي. زده کوونکو ، د هغوی د پام اړونکو او ښوونکو د رواني روغتیا د ډیرو ستونزو د نښو نښانو یادونه وکړه ، خو په ټولنیزو چارو کې یې خپله ونډه مثبته او اغیزمنه ارزوله.

لیکونکې هغه حقیقت ته ګوته نیسي چې د افغانستان دولت پالیسي د عامې روغتیا په برخه کې د لازمو اقداماتو اړتیا په روښانه توګه څرګنده کړې ترڅو صدمې، د رواني روغتیا اختلالات او د رواني رنځونو کچه په عمومي توګه، د سترو محدودیتونو په شرایطو کې چې د لومړنیو روغتیایي او ټولنیزو خدمتونو د برابرولو په برخه کې او هغه ننګونې چې د ځوانانو لپاره د اغیزمنو پروګرامونو د رامینځ ته کولو د لارې پر سر شته راټیټې کړي.

هغوی دې نتیجې ته ورسېدل چې: "په افغانستان کې د تاوتریخوالي یوه لړۍ شته چې د وسله والو بلواوو څخه تر کورنیو شخړو پورې یې لمنه غځیدلې چې د ناخاپي درد او دوامداره رنځ د پیدا کیدو لامل ګرځي. زمونږ معلومات دا وړاندیز کوي چې د افغان ماشومانو په ژوند کې ورځنۍ تاوتریخوالی په هغه اندازه د پام وړ موضوع ده لکه څومره چې وسله واله جګړه د صدمو اړوندو تجربو په یادولو کې ده... زمونږ څېړنه د ښوونځیو اړوند نوښتونو په ارزښت ټینګار کوي ترڅو د ماشومانو رواني روغتیا او د ورځني رنځ په شرایطو کې د صدموپراهمیت پوهیدل، تاوتریخوالی او بدمرغي په ښه کړي." اړیکه: پروفیسور کیټرین پینټر بریک، د انګلستان د دورهم پوهنتون.

Catherine.panter brick@durham.ac.uk

## د ځیړنیز رپوټ څخه ځیني حقایق

دغه ځیړنه د لوړې کچې هغه لومړنۍ ځیړنه ده چې د ماشومانو د رواني روغتیا په هکله د هیواد په سویلي او مرکزي سیمو کې تر سره شوې ده. نوموړې ځیړنې د نړیوالو آزمایشي کړندودودونو یو ترکیب یې ځانګړې کړی، چې په ۲۰ نورو کلتورونو کې دماشومانو د روغتیا د ارزولو په موخه د دغه پوښتنلیکونو سره چې په ځانګړې توګه د افغانستان لپاره برابر شوې وو ، کارول کېدل.

د یوې منظمې ټولنیزې بیلګې د طرح کولو ، د رپوټ د جوړولو ، د یوه پیچلي پروتوکول د ویشلو ، او د مخامخ مرکو په بهیر کې د یوه محرم چاپېریال د تامینولو لپاره ښوونځي د اړیکو ترټولو ښه او مناسب ځایونه وو. سیستماتیکه نمونه اخیستنه د هغه کورنیو په برخه کې چې خپل ماشومان ښوونځیو ته نه پرېږدي نه شوه تر سره کیدای.

ددې احتمال شته چې په پنځو کې یو د ښوونځي ماشوم په رواني ناروغۍ لکه له حده زیاته اندېښنه، غم، خفګان او احتمالي رواني اختلال اخته وي. دا د هغه اټکل شوې میزان دوه برابره دی چې د دغه عمر د ښونځې د ماشومانو لپاره په پام کې نیول شوی دی. کمزورې رواني روغتیا د افغانانو په راتلونکې نسل کې یوه ډېره د پاموړ موضوع ده، له همدې کبله ددې خطر لپاره د ژغورونکو فکتورونو رامنځته کول خورا اړین بلل کېږي.

هغو ماشومانو چې د جګړو اړوندې پیښې لکه د خپلوانو د لاسه ورکول، او په زوره بې ځایه کیدنې پرته نورې غمجنونکې پیښې لکه ناڅاپي پیښې، کورني وهل ټکول، په ګاونډ کې تاوتریخوالی، او دردوونکې طبي درملنې یې تجربه کړې دي، نوموړې ماشومان د هغه ماشومانو په توګه پیژندل کیږي چې صدمې ور رسیدلې دي. دا نه یوازې جګړو پورې اړوند تاوتریخوالی دی چې د ماشومانو په ژوندانه کې صدمې را مینځ ته کوي، بلکې د کورنۍ او ټولنیزژوند په کچه تاوتریخوالی چې د ورځنیو ټولنیزو او اقتصادي فشارونو او ستونزو له کبله را مینځ ته کیږي.

د یادولو وړ ده چې ډېری ماشومان زیاتې ستونزې پرته له دې چې ددوی په روحي سلامتیا او ورځنیو ټولنیزو چارو کې د پام وړ کمزوري له ځانه څرګنده کړي زغمي. یو له هغو فکتورونو څخه چې د ماشومانو د سالمې رواني روغتیا لپاره اړین بلل کېږي، د هغوې د پام اړونکو ښه رواني روغتیا ده.

د ماشومانو د رواني روغتیا د ودې لپاره وړاندیزونه

لکه څرنګه چې رواني روغتیا د افغانستان د اساسي روغتیایي خدمتونو په مهمو لومړیتوبونو کې ځای لري نو ځکه مونږ باید د هغو عواملو په هکله چې د ماشومانو په ژوند کې د خفګان او رنځ لامل ګرځي پراخ فکر وکړو: د تاوتریخوالي یوه پراخه لړۍ او ورځني فشارونه د هغوی رواني روغتیا اغیزمنه کوي.

ډېری ماشومان پر ښوونې او روزنې او ورسره ستونزمنو کارونو تمرکز کوي ترڅو خپلو کورنیو سره د د بې وزلۍ په وړاندې مبارزه کې مرسته وکړي. ځواب ورکوونکو د ښوونې او روزنې د کیفیت د ښه والي او همدارنګه د کور او کار موندلو اړوند د کورنیو فشارونو د کمولو په اړتیا ټینګار کوي. د ښوونځیو پر بنسټ اقدامات، چې په نورو جګړې ځپلو هیوادونو کې ورته وده ورکړل شوې ده ترڅو ماشومانو او د هغوی د کورنیو ته مرسته برابره کړي دلته به هم اغیزمنه پریوځي.

رواني روغتیا ته نه یوازې هغو کسانو ته چې روغتیایي اړتیا لري د یو متخصص د پاملرنې برابرول بلکې د هغو پالیسیو له لارې چې کورنۍ واحدونه پیاوړي کوي وده ورکول کیږي. د ماشومانو په ژوند کې د روان تاوتریخوالي د لاملونو په ښه کول یو لومړیتوب دی چې د ثابته دندو ، روغتیایي خدمتونو او باکیفیته ښوونې اوروزنې ته د لاس رسی. په هلو ځلو کې د ټولنې په کچه ماتو سره اړیکه لري.

# د پراختیایي پیسو دوه ځلیز لګښت: په افغانستان کې د تدارکاتو ځایي اقتصادي اغیزه

"د پراختیایي پیسو دوه ځلیز لګښت: په افغانستان کې د تدارکاتو ځایي اقتصادي اغیزه." نیویارک: Peace Dividend trust، ۱۳۸۸ کال ۳۳iv مخ.

http://www.peacedividendtrust.org/en/data/files/download/pdfs/PDT_Spending_Dev$_Twice_Report_0709.(pdf (1.99 MB

دغه رپوټ په افغانستان کې د ۱۳۸۵ لمریز کال په بهیر کې د رسمي پراختیایي مرستو د لګښت ځایي اقتصادي اغیزې ارزولې دي.( د ۱۳۸۵ کال کب ۱۳۸۶ کال کب ).دغه رپوټ د مخکینیو څېړنو راهیسې اصلاحات په ګوته کوي او د هغو مخ ته پرتو لارو وړاندیز کوي چې د افغانستان په اقتصاد کې د پراختیایي لګښت اغیزه زیاتوي.

ددغې څېړنې موخه د نړیوالې ټولنې او افغان دولت سره مرسته وه ترڅو د پراختیا لاره تعقیب کړي څو د افغانستان په ټرون لیک کې د مرستو د اغیزمنتیا د زیاتولو اړوند ژمنې د افغان خدمتونو او وسایلو د زیاتو کارولو له لارې پوره کړي. د PDT لخوا په افغانستان کې د رسمي پراختیایي مرستو د لګښت د ځایي اقتصادي اغیزې تر سرلیک لاندې دغې دوهمې څېړنې ومونده چې د کابو ۲.۱ بیلیونو هغه ډالرو څخه چې د نړیوالو بسپنه ورکوونکو لخوا تادیه شویو پیسو چې دنومړې څېړنې تر پوښښ لاندې راوړل شوي، شاوخوا ۳۷.۲ سلنه مالي مرستې(۷۸۸ میلیون ډالر ) د افغانستان په اقتصاد کې اضافه شوي چې د تېرو کلونو په پرتله په ځایي کچه د مرستو په اغیزمنتیا کې ۲ په سلو کې زیاتوالی څرګندوي.

## پس منظر

Peace Dividend Trust یو غیرانتفاعي سازمان دی چې موخه یې د سوله ایزو عملیاتو لا ډېره اغیزمنتیا ، ګټورتیا او منصفانه کول دي. دغه رپوټ چې د دوهمې څېړنې له لارې د مرستو د اغیزمنتوب او په افغانستان کې د سیمه ایزو تدارکاتو په هکله د PDT له خوا تر سره شوه، برابر شوی دی. لومړنۍ پروژه، د افغانستان د ټرون لیک د تدارکاتو د څارنې پروژې (۱۳۸۲ کال) د رسمي پراختیایي مرستو دسیمه ایزې اقتصادي اغیزې شننه کړې ده چې د اتو مهمو پراختیایي شریکانو لخوا لګېږي. دا په ۱۳۸۵ کال کې د افغانستان په ټرون لیک کې په افغاني توکو او خدمتونو د زیاتې تکیې له لارې دنړیوالو مرستو د اغیزمنیتا د زیاتولو په اړه د شوو ژمنو لومړنۍ ارزونه وه. همدا راز د څارنې د اوسني ظرفیت د پیاوړتیا او د هغو ژمنو د پوره کولو لپاره وړاندیزونه وشوه او په همدې توګه د هغو لارو چارو په هکله چې دوی د تدارکاتو زیاتره برخه د افغانستان په دننه کې په سیمه ایزه توګه تر لاسه کړي وړاندیزونه کوي. د ۱۳۸۸ کال سروی (چې مالي لګښت یې د انګلستان د نړیوالې پراختیا د څانګې لخوا برابر شوید ه[DFID] ) ته پراختیا ورکړل شوه ترڅو یوولس نور پراختیایي شریکان (متحده ایالتونه، انګلستان، نړیوال بانک، اروپایي کمیسیون، کاناډا ، جرمني، هالنډ ، سویډن، ایټالیا ، ناروې او د اسیا پراخیتایي بانک ) پکې شامل کړي. دغه رپوټ د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د سرمنشي د ځانګړې استازې کای ایدي لخوا تایید شو. نومړې د افغان دولت لپاره د مالیې څخه د لاسته راغلو عوایدو په برخه کې د ځایي تدارکاتو پر اهمیت او د افغان ځوان کارګرو لپاره د کاري فرصتونو په رامنځته کولو ټینګار کاوه. ایدي د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د مرستندویه هیأت (UNAMA ) په استازیتوب نړیواله ټولنه وننګوله چې په راتلونکې کال کې دې د خپلو ځایي تدارکاتو په برخه کې ۱۰ په سلو کې زیات والی راولي.

## مهمې موندنې

(PDT ) د ۱۳۸۴(چې د۲۰۰۵ کال د مارچ نه د ۲۰۰۶ کال ترمارچ پورې سمون لري ) او ۱۳۸۵ مالي کلونو تر مینځ (چې د ۲۰۰۶ کال د مارچ نه تر د ۲۰۰۷ کال مارچ سره سمون لري ) ومونده چې د بسپنه ورکوونکو د مرستو ځایي اقتصادي اغیزې د پام وړ زیاتوالی موندلی چې له۳۱.۲ سلنې څخه ۳۷.۲ سلنې ته رسیږي. د ډالرو په حساب، د ځایي اقتصاد اغیزه نږدې دوه برابره شوې(د ۴۱۴ میلیونه امریکایي ډالرو څخه ۷۸۸ میلیونه امریکایي ډالرو ته ). دا کېدای شي په لومړي سر کې د هغو بسپنه ورکوونکو زیاتوالې ته منسوب شي چې په وروستیو څېړونو کې یې برخه واخیسته او همدارنګه د پخوانیو برخه والو لخوا په ځایي لګښت کې زیاتوالي ته هم منسوب شي – چې دواړو خپله منځني اغیزه یې درلودله.

لکه څنګه چې په لاندیني جدول کې ښودل شوي، PDT یو ځل بیا ومونده چې د بسپنه ورکوونکو د رسمي پراختیایي مرستو د ځایي اقتصاد اغیزه هغه مهال چې د وجهي صندوق، د بودجې د ملاتړ کونکو تیاری له خوا ، او یا په نیغه توګه د افغان دولت ته ( شاوخوا ۸۰ په سلو کې) هغه بودیجې چې نړیوالو کمپنیو او نادولتي سازمانونو پورې اړوندې دي برابرېږي ، په بی سارې توګه لوړېږي (د ۱۵ سلنې څخه زیاته). دا ددې لپاره وو ځکه چې وجهي صندوقونه ځایي معاشونه تادیه کوي، له ځایي سوداګرو څخه توکې پیري، اود یو لړ پروګرامونو مالي لګښت برابروي لکه د ملي پیوستون پروګرام (NSP) چې ځایي ټولنو او

وګړو ته د نغدو پیسو په تادیه کې ښکیل دي.

| مالي تیارى | اټکل شوې ځایي اقتصادي اغېزه |
|---|---|
| وجهي صندوقونه او بودجوي ملاتړ | ۷۰-۸۰٪ |
| نړیوال تړونونه | ۱۰-۲۰٪ |
| ځایي تړونونه | ۳۵-۵۰٪ |

د نړیوالو کمپنیو او نادولتي سازمانونو لپاره تړونونه په اساسي توګه د بهرنیو کارکوونکو د معاشونو د تادیې او په نړیواله کچه د توکو د تدارکاتو لپاره کارول کېږي. که څه هم د غه شرکتونه ځایي کارګر هم ګماري خو هغه معاشونه چې هغوی ته ورکول کېږي ډېری مهال د نړیوالو کارکوونکو په پرتله ډېر ټيټ وي او له همدې کبله د هغوی د ټول لګښت ډېره برخه نه جوړوي.

د دغې څېړنې یوه بله غوره پایله دا وه چې بسپنه ورکوونکو لا تراوسه د خپلو رسمي پراختیایي مرستو د تادیې د تعقیب یا محاسبې لپاره او یاهم د خپلو پلي کوونکو شریکانو د لګښتونو لپاره هیڅ ډول سیستمونه ځای په ځای کړي ندي چې دا مسأله د د ځایي اقتصادي اغیزو په اړه د هغه ممکنه شننو پراختیا محدودوي، په دې توګه د مرستو د اغیزمنتیا په اړه د نړیوالو ژمنو په پوره کولو کې د پرمختګ اندازه چې تر دې دمه رامنځته شوې بې سارې توګه یې ستونزمنه کوي.

سربېره پردې، د بسپنه ورکونکو ورتیا د ۱۳۸۲ کال د رپوټ څخه راپدې خوا د خپلو مرستو په اړه د کره او پراخ رپوټ په ورکوونه کې د پام وړ وده نه ده کړې. هیڅ یو بسپنه ورکوونکی په دې ونه توانېدو چې د ۱۳۸۵ مالي کال د تادیو په اړه د پروژې پوښتنو ته په بشپړ ډول ځواب ووایي. په بل عبارت، ډېر ځله بسپنه ورکوونکي نه پوهیږي چې په پای کې د هغوی د نړیوالو مرستو پیسې په افغانستان کې څنګه لګیدلې دي. د نړیوالو کمپنیو او نادولتي سازمانونو لپاره تړونونه په اساسي توګه د بهرنیو کارکوونکو د معاشونو د تادیې او په نړیواله کچه د توکو د تدارکاتو لپاره کارول کېږي. که څه هم دغه شرکتونه ځایي کارګر هم ګماري خو هغه معاشونه چې هغوی ته ورکول کېږي ډېری مهال د نړیوالو کارکوونکو په پرتله ډېر ټيټ وي او له همدې کبله د هغوی د ټول لګښت ډېره برخه نه جوړوي. د دغې څېړنې یوه بله غوره پایله دا وه چې بسپنه ورکوونکو لا تراوسه د خپلو رسمي پراختیایي مرستو د تادیې د تعقیب یا محاسبې لپاره او یاهم د خپلو پلي کوونکو شریکانو د لګښتونو لپاره هیڅ ډول سیستمونه ځای په ځای کړي ندي چې دا مسأله د د ځایي اقتصادي اغیزو په اړه د هغه ممکنه شننو پراختیا محدودوي، په دې توګه د مرستو د اغیزمنتیا په اړه د نړیوالو ژمنو په پوره کولو کې د پرمختګ اندازه چې تر دې دمه رامنځته شوې بې سارې توګه یې ستونزمنه کوي.

سربېره پردې، د بسپنه ورکونکو ورتیا د ۱۳۸۲ کال د رپوټ څخه راپدې خوا د خپلو مرستو په اړه د کره او پراخ رپوټ په ورکوونه کې د پام وړ وده نه ده کړې. هیڅ یو بسپنه ورکوونکی. په دې ونه توانېدو چې د ۱۳۸۵ مالي کال د تادیو په اړه د پروژې پوښتنو ته په بشپړ ډول ځواب ووایي. په بل عبارت، ډېر ځله بسپنه ورکوونکي نه پوهیږي چې په پای کې د هغوی د نړیوالو مرستو پیسې په افغانستان کې څنګه لګیدلې دي.

## وړاندیزونه

په افغانستان کې د PDT فعالیتونو یو شمېر عملي او عیني ګامونه چې د رسمي پراختیایي مرستو د ځایي اغیزې د لا پیاوړي کولو په موخه پلي کېدای شي په ډاګه کړې دي. له دغو پالیسیو سره ژمنتیا – او په حقیقت کې په تدارکاتو کې د پیسو ارزښت به راټيټ نه شي بلکه ډېر ځلې به زیاتوالی ومومي. لومړی باید ډېرې پیسې د تمویلوونکو سرچینو څخه پانګه شي چې خورا لوړه اقتصادي اغیزه لري. که څه هم د لګښتونو په اداره کې د افغان دولت د ظرفیت په اړه د بسپنه ورکوونکو اندیښنې د درک او پوهېدو وړ دي، هغوی ښایي هغه د پامور پرمختګ ته پاملرنه ونکړي چې افغان دولت تر دې دمه د خپلو لګښتونو د اغیزمنتیا په ښه کولو کې ترلاسه کړې دي.

دوهم د (PDT) پربنسټ بسپنه ورکوونکې کولای شي چې د نورو تمویلوونکو سرچینو اقتصادي اغیزه د لا زیاتو افغاني توکو د پیرلو او خدمتونو د کارولو له لارې زیاته کړي. د ځایي تدارکاتو زیاتوالی. په تېره بیا هغه تدارکات چې صنعتي اړخ لري یا هغه مهم توکي چې د کورني ظرفیت له لوړولو سره مرسته کوي–د مرستو د ځایي اقتصادي اغیزې د ښه والي یوه بله وسیله ده. دغه رپوټ وړاندیز کوي چې پراختیایي شریکان باید ټول تړون کوونکي او پلي کوونکي شریکان دې ته وهڅوي چې که چیرې د توکو او خدمتونو برابرول په ځایي توګه ګټور تمامیږي نو وړاندې تر دې چې خپل تدارکات له هیواد څخه بهر برابر کړي باید لومړی د خپلو پروژو د کارونو لپاره توکي او خدمتونه په ځایي کچه وپیري.

که څه هم چې بسپنه ورکوونکې ډېر ځله د هغو ستونزو یادونه کوي چې د افغان سوداګرو سره په کار کولو کې ورسره مخامخ کیږي لکه بې ثباتي، فساد او د ظرفیت کمښت. دا څرګنده ده چې که چیرې ځایي تدارکات په سمه توګه ترسره شي نو کورنیو وړاندې کوونکو او نړیوالو پېرېدونکو ته په یو شان ګټه ورسیږي. د ۱۳۸۵ کال څخه راپدیخوا کله چې د پیس دیویدنت ترست اداري په افغانستان کې د بازار موندنې (PDM A) پروژه پیل کړه نو نوموړې پروژې د افغاني سوداګرو لپاره د ۳۵۰ میلیونو ډالرو څخه زیاتو پیسو په برخه کې د اسانتیاوو د برابرولو په برخه کې مرسته وکړه او د افغان کارګرو لپاره یې په زرهاوو دندې رامنځته کړې. دغه رپوټ بسپنه ورکوونکو او پراختیایي شریکانو ته زیات شمېر نور عملي او د پروګرام جوړولو اړوند وړاندیزونه هم وړاندې کړل لکه: د سوداګریزو وړاندیزونو پښتو او دري ژبو ته ژباړل او په

پراخه کچه د ژباړل شويو متنونو ويشل ترڅو له دې لارې د کوچنيو او منځنيو شرکتونو لا زيات وړانديزونه جذب کړي، د افغاني سوداګرو لپاره د ځايي ښوونيزو او روزنيزو مجلسونو سره مرسته او يا د هغه کوربه توب کول، چې په ترڅ کې يې د تدارکاتو کړنلارې او غوښتنې توضيح کېږي؛ او د تدارکاتو نړيوالو مديرانو ته د هغو سيمينارونو په لاره اچول چې په افغانستان کې د لګښت د رسالت اړوند اقتصادي او ستراتيژيکو ګټو کې ښه والی رامنځته کړي په داسې حال کې چې هغوی ته د ځايي بازار څخه د ګټه پورته کولو د څرنګوالي په اړه سلا مشورې برابروي.

د بسپنه ورکوونکو د معلوماتو دوامداره کمزورۍ د په نښه کولو لپاره، د PDT اداري وړانديز وکړ چې مرستندويه ټولنه بايد په ساحه کې د خپل لګښتونو په اړه منظم او کره رپوټ ورکونه په ډېره همغږۍ او خورا واقعي توګه پيل کړي. دا کار د هغوی وړتيا به د دوی د لګښتونو د ځايي اقتصادي اغيزې په اندازه کولو او څارولو کې لوړه کړي چې په خپل وار سره به د مرستو د برابرولو اړوند پاليسيۍ، پروګرام جوړونې او نورې ستراتيژيکې پريکړې به اغيزمنې کړي.

## پوښتنې او انديښنې

د PDT د ادارې د ۱۳۸۶ کال د رپوټ پربنسټ، دغې څېړنې د نړيوالو بسپنه ورکوونکو او نادولتي سازمانونو يو شمېر انديښنې رابرخيره کړې چې وضاحت ته اړتيا لري. د غه اداره په دې پوه ده چې د نړيوالې ټولنې د مرستو ټوله اقتصادي اغيزه د هغه لګښت د اغيزې په پرتله زياته ده چې يوازې د رسمي پراختيايي مرستو له لارې تر پوښښ لاندې راوړل شوې ده. د مرستو په بشپړه اغېزه کې هغه لګښت برخه لري چې بسپنه ورکوونکو د خپلو فعاليتونو په موخه لګولې دي او همدارنګه هغه مرستې چې د رسمي پراختيايي مرستو د شرايطو سره سم نه دي( د بيلګې په توګه د دفاعي همکاری له لارې). په همدې توګه، نوموړې څېړنې کيفيت، ارزښت يا د پروژو د ټاکلو ډولونو اړتيا نه ده ارزولې، بلکه په دې څېړنه کې هڅه شوې ده ترڅو هغه مستقيمې مالي اغيزې اندازه کړي چې اوسمهال نړيوال بسپنه ورکوونکې د رسمي پراختيايي مرستو بودجه په څه ډول په مصرف رسوي. په همدې ډول، د تمويلي فعاليتونو د ځايي اقتصادي اغيزې اټکل بايد د هغوی د ټوليزې اغيزمنتيا د يوه بشپړوونکې شننې په څير وکتل شي.

## پايله

ددغې څېړنې پر بنسټ، د هغو مالي مرستو په مقدار کې زياتوالی چې افغان پلورونکو ته لاسته ورځي يا د وجهي صندوق او بوديجوې مرستو له لارې تنظيميږي د رسمي پراختيايي مرستو ځايي اقتصادي اغيزه به زياته کړي. په هغو پيسو کې بايد زياتوالی راشي چې په افغانستان کې لګيږي نسبت دې ته چې په ساده ډول په افغانستان باندې لګيږي.

د ځايي توکو او خدمتونو د زيات کارولو له لارې د نړيوالو مرستو د اغيزمنتيا زياتول د کوربه او مرستندويه هيوادونو لپاره په يو ډول ګڼ شميرګټې لري. د بيلګې په توګه، د پروژو د چارو د پر مخ بيولو لپاره د ځايي توکو او خدمتونو کارول د پراختيايي مرستو د دوه ځليز لګښت لامل ګرځي چې له يوه پلوه د افغانستان د وګړو او ټولنو لپاره زيات اړين خدمتونه چمتو کوي او له هغې سره جوغت کاري فرصتونه رامنځته کوي، له مالياتو څخه لاس ته راغلي عايدات زياتوي او د يوه باثباته بازار په وده کې مرسته کوي چې دا ټول په پای کې کولای شي چې جګړې ته د بيا ګرځيدلو احتمال کم کړي.

د PDT د ادارې د ۱۳۸۶ او ۱۳۸۸ کلونو رپوټونه دا مسأله جوتوي چې د رسمي پراختيايي مرستو ځايي اقتصادي اغيزې د څو تېرو کلونو په ترڅ کې ښه والی موندلی دی چې له ۳۱.۲٪ څخه ۳۷.۷٪ ته رسيدلې. په هر حال، دغو رپوټونو د لګښتونو په تعقيبولو او څارنه کې روانې ستونزې او همدارنګه د توکو او خدمتونو د برابرلو پرمهال له افغان بازار څخه په ګټه اخيستلو کې د نړيوالو سازمانونو عمومي پاتې راتلل يې په ګوته کړي.

د PDT او د پراخيتايي پيسو ددوهم ځل لګښت رپوټ ته د لاسرسۍ لپاره هيله کېږي چې د PDT د اداري ويب پاڼې http://www.pdtglobal.org ته مراجعه وکړئ.

# څېړنيز خبرونه

## د پالیسۍ د څېړنو د ملي مرکز د ۱۳۸۸ لمريز کال څېړنيزې موضوعګانې www.ncpr.af

د څېړنيزې پالیسۍ ملي مرکز د ۱۳۸۸ او ۱۳۸۹ کلونو د څېړنو لست دغه لاندې څېړنيزې مقالې وړاندې کوي چې له وړاندې نه د ۱۳۸۸ کال لپاره د پرمختګ په حال کې دي:

- د اقتصاد رياست به د بازار د اقتصاد سیستم او د افغانستان د اقتصاد لپاره د هغه پايلې به و ارزوي.
- د ټولنيزو علومو رياست به وزګاري او په افغانستان کې د وزګارۍ اغیزې به وارزوي.
- د سولې د څېړنو اداره به سوله د اسلام له نظره او په افغانستان کې د سولې د پلي کيدو څرنګوالۍ به وڅېړي.

په کابل پوهنتون کې د افغانستان د مرکز (ACKU) لپاره نوې ودانۍ په پلان کې ده.

## په کابل پوهنتون کې د افغانستان د مرکز (ACKU) لپاره نوې ودانۍ په پلان کې ده



نانسي هتچ دوپرې
تصوير: د مارکوس هاکنسن د افغانستان لپاره د سویډن د کمېټې کارکوونکی

د ۱۳۸۸ کال د زمري د مياشتې په دريمه نېټه د يوې پراخې غونډې په ترڅ کې د کابل پوهنتون د نوې پلان شوې کتابتون د ودانۍ په سيمه (د سيد جمال الدين افغاني څلې ته نږدې) کې د افغانستان د مرکز (ACKU) لپاره د ودانۍ د بنسټ ډبره کيښودل شوه. په دې غونډه کې نانسي دوپرې، محترم وزير ډاکټر اعظم دادفر او نورو لوړ پوړو چارواکو برخه درلودله. د ودانۍ د جوړولو لپاره تړون کوونکې شرکت د لوړو تحصيلاتو د وزارت لخوا ټاکل شوی او د ودانولو چارې يې چې تمه کيږي ۱۵۱۰ مياشتو پورې به بشپړې شي پيل شوې.

سربېره پردې د نانسي دوپرې لخوا د افغانستان په هکله د رپوټ چې د ۱۳۷۴ څخه تر ۱۳۸۲ کاله پورې پیښې په کې شاملې دي د افغانستان لپاره د سويډن کمېټې له خوا د يو ټولګي په بڼه بيا خپور شو (په جلا جلا انګريزي او سويډني نسخو). د نوموړې کتاب انګريزي نسخه د کابل په نوې ښار کې د ګنجينه کتابتون څخه د ۲۵ امريکايي ډالرو په بدل کې ترلاسه کولای شئ، او يا د افغانستان لپاره د سويډن کمېټې ته په دې پته infa@sak.se. برېښنا ليک واستوئ:

Dupree, Nancy Hatch. Afghanistan over a Cup of Tea: 46 Chronicles, editor Markus Håkansson; translations Norman Burns; photo on cover Klas Bjurström. Stockholm, Sweden: Swedish Committee for Afghanistan, 2008. 191 p. ISBN 9789186936259

لا زيات معلومات او نوي مطالب د افغانستان د مرکز (ACKU) د ويب پاڼې: www.ackuaf.org **څخه** د لاسرسی وړ دي.

## د ښاروالۍ د ادارې د کتاب دوهم ټوک اوس د لاسرسۍ وړ دی.

سماراويرا ، ويجايا. په افغانستان کې د ښاروالۍ اداره. کابل: ICMA, ۱۳۸۸ دوهم ټوک( ۳۴۲ مخ). لکه څنګه چې د دې خبرپاڼې د تېرې ګڼې (۲۲ ګڼه، د ۱۳۸۸ کال د چنګاښ او زمري مياشتې، ۷۵) د منځپانګې په لنډيز کې راغلي چې د نوموړي کتاب دوهم ټوک چاپ ته رسېدلی دی او يو لړ اسناد وړاندې کوي (لست يې په لاندې ډول دی) چې مواد يې د لومړي ټوک د اساسي برخې سره د ښاروالۍ د حکومتدارۍ په هکله مشورې لپاره سرچينه بلل کېږي. چې دا د افغانستان د اسلامي جمهوريت او ( هغه څخه وړاندې د افغانستان د اسلامي امارت) هغه رسمي اسناد دي چې د دې کتاب په انګريزي نسخه کې د ماخذ په توګه وړاندې شوې دي. په لومړي سرکې د افغانستان د اوسني اساسي قانون څخه څرګند يږي چې د دواړو دولتونو د يو لړ تقنيني مصوبو يا لايحو سره تعقيبيږي.

- د افغانستان اساسي قانون (۱۳۸۲) (رسمي جريده (OG) ۸۱۸، د ۱۳۸۳ کال د مرغومې مياشت)
- د ښاروالیو قانون ۱۴۲۱ (۱۳۷۹) (رسمي جريده ۷۹۴، د ۱۳۷۹ کال د تلې د مياشتې ۱۲ مه نېټه)
- د ښاروالیو د ټاکنو قانون ۱۳۸۱ ( رسمي جريده ۸۱۴ د ۱۳۸۲ کال د ليندۍ د مياشتې ۳۰ )
- د ښاري خدمتونو لپاره د ښاروالۍ د ماليې قانون ۱۴۲۱ (۱۳۷۹ کال)
- ( رسمي جريده ۷۹۴، د ۱۳۸۰ کال د لړم د مياشتې ۲۵ )

- د ښاري خدمتونو لپاره د ښاروالۍ د مالیې د قانون په ۱۱مه ماده کې تعدیل ۱۳۸۱ (۲۰۰۲) (د افغانستان د انتقالي دولت د ریاست فرمان)
- د تدارکاتو قانون ۱۳۸۴ کال( رسمي جریده ۸۲۵، د ۱۳۸۴ کال د لړم د میاشتې ۳)
- د فساد پروړاندې د مبارزې کنوانسیون ۱۳۸۲ کال( رسمي جریده ۹۳۲، ۱۳۸۲کال د تلې د میاشتې ۱۸)




- د مالیې او لګښتونو د مدیریت قانون ۱۳۸۵ کال( رسمي جریده۸۹۳، د۱۳۸۴کال د زمري د میاشتې ۵)
- د چاپېریال قانون ۱۳۸۵ کال(۲۰۰۷)(رسمي جریده ۹۱۲، د ۱۳۸۵ کال د سلواغې د میاشتې ۵) د افغانستان اسلامي جمهوریت، د ځایي حکومتدارۍ لپاره خپلواک ریاست، پنځه کلن ستراتیژیک کاري پلان (۱۳۸۲کال د سلواغې میاشت)

پته: ویجایا سماراویرا vsamaraweera@hotmail.com

# د افغانستان د څېړنې او ارزونې د ادارې نوې څېړنیز مطالب

دافغانستان د څېړنې او ارزونې د ادارې د او سنیو څېړنو په هکله لنډ معلومات چې په لاندې ډول دي هغه معلومات بشپړوي چې زمونږ په ویب پاڼه www. areu.org.af کې ورکړل شوي دي.

## د جندر د اړیکو او ښځو د ګډون څېړنه

د افغانستان د څېړنې او ارزونې د ادارې د جندر د اړیکو او ښځو د ګډون څېړنه د هیواد په کچه په دوو بېلابېلو پراختیایي نوښتونو (د ملي پیوستون د پروګرام د ټولنیزې پرمختیایي شوراګانې (CDC) او د کوچنیو پورونو پروګرامونه چې د افغانستان لپاره د کوچني پورونو د پانګونې د مرستندویه تسهیلي پروګرام په چوکاټ کې تمویلېږي) کې د ښځو د ګډون اغیزې سپړي.

دغه دوه ملي پروګرامونه د کلیو د پراختیا او بیارغونې د وزارت لخوا اداره او د همکارو سازمانونو لخوا پلي کېږي. دغه څېړنه په کورنۍ او ټولنه کې د ښځو د ګډون اغیزې یا تاثیرات د هغوی د جنسیت د رول او اړیکو له پلوه پلټي. په دې څېړنه کې هغه انګیرنې سپړل شوي چې ګواکې په پراختیایي پروګرامونو کې د ښځو ګډون به هرو مرو د هغوی د ځواکمنېدو لامل وګرځي. نوموړې څېړنه په ځانګړې ډول لاندې موضوع ګانې تر څېړنې لاندې نیسي.

- د کورنۍ او ځایي ټولنې په چاپېریال کې د جندر د رول او اړیکو په هکله په ځایي کچه د ښځو د ګډون اغیزې په حکومتدارۍ، ټولنیزو او پرمختیایي پروژو کې تر بحث لاندې نیسي. له دې کبله، دغه څېړنه به څرګنده کړي چې د ښځو د ګډون کوم ډولونه به په ورځني ژوندانه کې د هغوی لپاره مثبتې پایلې ولري. همدارنګه د ګډون ډولونه په انفرادي او ډله ایزه توګه د ښځو لپاره د ځواکمنېدو په توګه کڼل کېدای شي.
- که چیرې ځواکمنتیا په یو ځای کې (د بېلګې په ډول، د پرېکړه کولو په عامه غونډو کې لکه په ټولنیزو پرمختیایي شوراګانو او د نادولتي سازمانونو په نورو ټولنیزو ډلو کې) ترلاسه کېږي، نو خاماخا په بل ځای (لکه د کورنۍ په خصوصي چاپېریال) کې د ځواکمنېدو لامل ګرځي.
- د ښځو د ګډون د هڅونې لپاره د پلې کوونکو ادارو هڅوونکې تر آزموینې لاندې نیسي او بیا دا په پراختیایي نوښتونو کې د ښکیلېدو لپاره، د ښځو د ګډون خپل ځاني هڅو سره پرتله کوي.
- د ملي پیوستون په پراختیایي شوراګانو او د کوچنیو پورونو په پروګرامونو او پروژو کې د ښځو د ګډون په وړاندې پیاوړې کونکي فکتورونه او خنډونه په ګوته کوي. دغه څېړنه به په دغو پراختیایي نوښتونو کې د ښځو د اغیزمن ګډون لپاره هڅونکې او مخنیونکې فکتورونه هم څرګند کړي.
- په دې هکله پوهاوی چې د ښځو ګډون او پیاوړتیا په افغان چاپېریال کې د ملي پیوستون په پراختیایي شوراګانو او کوچنیو پورونو د پروګرامونو په اړوند څرنګه درک کېږي.

د دې لپاره چې په ځایي کچه په تېره بیا د کورنۍ او ځایي ټولنې په چاپېریال کې د افغاني ښځو د ګډون اغیزې په بشپړه توګه وسپړل شي، نوموړې څېړنه څلورو مهمو موضوع ګانو ته ځانګړې شوې وه: ځواک، سیاست، پیاوړتیا او ګډون. که څه هم چې په دغه څېړنه کې اساسي موضوع د ځواک مفهوم دی ترڅو دا پوهه ترلاسه شي چې آیا په دغو پراختیایي پروګرامونو کې د ښځو ګډون ښځې ځواکمنوي که نه. ترهرڅه دمخه په دې موضوع پوهېدل اړین دي چې په افغاني چاپېریال او کورنیو کې ځواک په څه ډول اداره کېږي. همدا راز، جندر د ښځو او نارینه وو ترمنځ د ځواک د توپیرونو څرګندوی دی. نو له همدې کبله دغه څېړنه په افغاني کورنیو کې د ځواک د ادارې په څرنګوالي او د هغو بدلونو په هکله چې په نوموړو پراختیایي پروګرامونو کې د ښځو له ګډون وروسته د

ښځو او نارینه وو تر منځ د ځواک په اړیکو کې را منځ ته کیږي تمرکز به وکړي.
پته: دیبرا سمیت deborah@areu.org.af.

## حکومتداري

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره د څېړنیزو موخو لپاره حکومتداري په پراخو اصطلاحاتو کې تعریفوي، لکه د پرېکړه کولو بهیر او د هغو پرېکړو پلې کول. ددغې ادارې د حکومتدارۍ د پروګرام موخه دا ده تر څو ټولو هغو ملي او نړیوالو فعالینو ته چې په افغانستان کې د حکومتدارۍ اړوند موضوعاتو په اړه په دولت جوړونه او پراختیا کې ښکیل دي معلومات چمتو او هغوی ترې خبر کړي. څېړنه او س مهال په لاندو موضوعګانو تمرکز کوي:

### انتخابي حکومتداري

دغه څېړنه په افغانستان کې د انتخابي حکومتدارۍ اصلي اړخونه ارزوي. نوموړې څېړنې په ۱۳۸۸ کال کې په دریو برخو تمرکز کوي: سیاسي ګوندونه، د ډموکراسۍ اود ډموکراټیک کولو په اړه د افغانانو لید لوری، او ټولټاکنې. د نوموړو دریو موضوعګانو په اړه رپوټ اوس مهال موجود دی. د څېړنې موضوع به له دوو لارو ۱۳۸۸ کال ته وغځیږي: په ښلابېلو ولایتونو کې د ډیموکراټیک کولو د څېړنې لپاره د معلوماتو راغونډولو ته د دوام له لارې، او د ولسي جرګې د فعالیتونو او غښتلتیا وو په هکله د یوې نوې څېړنې له لارې.

### د زده کوونکو سیاست

دغه څېړنه به د هغه لارو چارو کومې چې د افغانستان په مهمو پوهنتونونو کې زده کونکې د سیاسي ګوندونو او په ډېر عام ډول سیاستونو سره ښکیلوي شننه وکړي. په دې اړه به یو توضیحي رپوټ د دغې ادارې لخوا د ۱۳۸۸ کال په وروستیو کې چمتو او مینه والو ته به وړاندې شي.

### سیمه ایز فساد

په ملي کچه د پالیسي جوړونکو له خوا فساد ته مخ په زیاتیدونکې پاملرنه اړول شوې ده. خو تر دې دمه د فساد په هکله او په سیمه ایزه کچه د فساد اړوند رسمونو د مفهوم په هکله لږ څه په ډاګه شوي دي. دغه پروژه به د ۱۳۸۸ کال د لړم په میاشت کې وړاندې تر پلان شوې ساحوي کار څخه چې د یو شمیر ولایتونو تر منځ د مقایسسوي څیړنې پر بنسټ به په ۱۳۸۹ کال کې په لاره واچول شي، د یوې دفتري څیړنې په بڼه ( هغه څیړنه چې د هغې په ترڅ کې معلومات د انټرنټ او یا نور وسایلو له لارې تر لاسه کیږي) به پېل شي.
پته: انا لارسن anna@areu.org.af

### معیشتونه

د افغانستان د څېړنې او ارزونې د ادارې دغه ډله د هغه ساحوي کار په شننه او لیکلو بوخته ده چې د سرپل په ولایت کې بشپړ شوی دی. همدارنګه د فاریاب په ولایت کې د افغانستان د معیشت د تګ کرښې( ALT ) د څېړنې د څلورم او وروستي پړاو په پېلولو هم کار روان دی. دغه اداره به هلته په دریو کلیو کې د معیشت څېړنه په لاره واچوي. دغه څېړنه به د ACTED د ادارې په مرسته په لاره واچول شي او له همدې کبله د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره د ACTED د کارکوونکو یوې ډلې ته د څېړنې د کړندود او د پلی کولو د لارو چارو په هکله روزنه ورکوي.   پته: ډګلاس سالتمارشی Douglas@areu.org.af

## انتقالي عدالت

د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې په دې وروستیو کې د "په افغانستان کې د جګړې میراثونه: عدالت، پخلاینه او مخ ته پرتې لارې" ترنامه لاندې یوه نوې پروژه پېل کړه. دغه څېړنه په افغانستان کې د انتقالي عدالت د ودې لپاره له روانو هڅو څخه الهام اخلي او هڅه کوي چې له دغه بهیر سره د جګړې د میراثونو او په ټولنیزه کچه د عدالت غوښتنې د تعبیر، سولې او پخلاینې په هکله د کیفي او ژورې پوهې له لارې مرسته وکړي. په پای کې ، د دغې څېړنې موخه دا ده چې د تېرو او اوسنیو جګړو د جرمونو او په افغان ټولنو باندې د بشري حقونو د د څرګندو سر غړونو د اغیزو شننه وکړي. ترڅو هغه ستراتیژۍ او میکانیزمونه په ګوته کړي چې ټولنو ته د پرمختګ لاره اواره کړي. همداراز په سیاسي اجندا کې د انتقالي عدالت د موضوع د پاتې کیدلو سره مرسته هم ددغې څېړنې د موخو څخه ده.

ددغې څېړنې مهمې موضوعګانې په لاندې ډول دي:

- د جګړې میراث: هغه مسایل چې د تېرو ۳۰ کلونو په بهیر کې او په ښلابېلو رژیمونو کې پېښ شوي را سپړي.
- عدالت: د خلکو لپاره د بشري حقونو څخه د سرغړونې او په جګړه کې د تر سره شویو جرمونو پروړاندې عدالت څه معنا لري او هغوی څه هیله لري چې عدالت ددوې لپاره څه کولای شي.
- سوله: د عدالت، امنیت او سولې ترمنځ اړیکې.
- بیا پخلاینه: بیاپخلاینه د خلکو لپاره څه معنا لري او څرنګه په ښه توګه ترسره کیږي.

دغه پروژه به په موجودو څېړنو لکه په ۱۳۸۴ کال کې د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون (AIHRC) د "عدالت اړتیا" او همدارنګه په ۱۳۸۴ کال کې د "Casting Shadows" ترنامه لاندې څېړنو کې اضافه او هغوی به بشپړې کړي. ددې موخې د ترلاسه کولو لپاره، دغه څېړنه به هڅه وکړي ترڅو د دې مسألې چې خلک په حقیقت کې د عدالت څخه څه مفهوم اخلي او څنګه د عدالت نشتوالی د خلکو، کورنیو او ټولنو سلامتی اغیزمنه کړي ددې موضوع په ګډون چې څنګه د انتقالي عدالت نشتوالی سیاسي، اقتصادي او ټولنیز پرمختګ اغیزمن کوي، د سپړلو له لارې نیمګړتیاوې ډکې کړي.

د څېړنې مقصد د عدالت څخه د خلکو د درک او د عدالت لپاره د هغوی د غوښتنو په هکله او همدارنګه څنګه د غه غوښتنې پوره کېدای شي، د پوهې ترلاسه کول دي. او موخه يې د خلکو، ټولنو او د قربانيانو غږ ته غوږ نيول او هغوی ته د هغه فرصت برابرول دي تر څو هغه څه چې غواړي او د عدالت په برخه کې ورته اړتيا لري څرګند يې کړي. لکه د هغه څه چې دوی يې په ټولنيزه کچه غوښتونکې دي او د هغه څه چې دوی يې په ملي کچه د ليدلو هيله لري تر منځ توپير.

ددې احتمال شته چې دغه څېړنه به د افغانستان په څلورو ولايتونو (کابل، باميان، ارزګان او بدخشان) کې په لاره واچول شي ترڅو بېلابېلې توکميزې ډلې په پام کې ونيسي ترڅو وليدل شي چې د افغانستان په بېلا بېلو برخو کې، د بېلابېلو رژيمونو له خوا او له بېلا بېلو جګړو څخه اغېزمن شوي او اغيزمن کېږي.

ددی لپاره چې د غه راز حساسې موضوع په اړه معلومات را غونډ شي، په هغو سيمو کې چې څېړنه تر سره کيږي د ټولنو د باور او اعتماد تر لاسه کول به تر ټولو غوره موضوع وي. يو آزاد يا پرانيستی. کيفي کړندود ټاکل شوی دی(د يو نيمه جوړښت لرونکو انفرادي مرکو، غيررسمي خبرو اترو او د ډله ايزو بحثونو يو ترکيب) ترڅو د ټولنو د بېلابېلو ډولو ټپلو د تجربو په اړه پوهه ترلاسه شي. دغه تګلار به څېړنيزو ډلو ته دا فرصت برابر کړي چې د هغه څه په اړه انعطاف منونکې اوسي چې د ټولنې وګړي يې په هکله د خبرې کولو پرمهال د آرامۍ احساس کوي او هغوی يې په هکله څه تصور او نظريې لري. پته: ايميلي وينتر بوتم Emily@areu.org,af يا فوزيه رحيمي fauzia@areu.org.af

د ۱۳۸۸ کال د ورېږ مياشت د شيعه وګړو د شخصيه احوالو تر شا د پاليسي او قانون جوړونې بهير ته يوه ژوره کتنه، د لوريان اوتس ليکنه.

# د افغانستان د څېړنې او ارزونې د ادارې نوې څېړنيز مطالب

www.areu.org.af/index.php?option=com_docman&Itmid=26&task=doc_download&gid=709 320 KB.

د ۱۳۸۷ کال د کب په مياشت کې د شيعه مذهبو د شخصي احولو د قانون په اړه خبرونه، يو لړ موضوعګانې چې د شيعه مذهبو ښځو حقوق يې محدودول له نړيوالو رسنيو له لارې يې غوغا جوړه کړه، چې د بېلابېلو ښکېلو اړخونو تود غبرګون يې را وپارولو. د افغانستان د څېړنې او ارزونې د ادارې څېړنې هڅه کړې چې ددغې کيسې يو بل اړخ تر آزموينې لاندې ونيسي: ددغې قانون پيل، برابرونه او پارلماني بهير. ددغې څېړنې موخه دا وه تر څو په ډاګه کړي چې دغه تجربه د بن د پروسې څخه وروسته په افغانستان کې د قانون جوړونې، او د سياسي کلتور او ددې اړوند ظرفيت په اړه څه څرګندولای شي. د ځواب ويونکو په ډله کې د ولسي جرګې غړي، شيعه علمي شخصيتونه، د مدني ټولنې استازي، هغه شعيه ښځې چې ددې قانون پروړاندې يې خپل غبرګون ښودلو، د سترې محکمې يو قاضی، د خپلواکو رسنيو استازي، نړيواله ټولنه، او د عدليې وزارت برخه درلودله. د ۱۳۸۸ کال د ورېږ مياشت د يوې افغان ډموکراسۍ پر لور؟ په افغانستان کې د ډموکراتيک کولو تصور را سپړي. د انا لارسون ليکنه.

www.areu.org.af/index.php?option=com_docman&Itemid=26&task=doc_download&gid=707 (320 KB).

سره له ټول پامه چې د افغانستان بحث پارونکو ټول ټاکنو ته اړول شوی وو، يوه مهمه پوښتنه همداسې نه پوښتل شوې پاتې ده: افغانان د ډموکراسۍ په هکله څه فکر کوي؟ دغه پوښتنه په ژوره توګه د افغانستان راتلونکي پورې اړونده ده، او د افغانستان د څېړنې او ارزونې د ادارې ددغه نوي رپوټ په زړه کې پرته ده. د ۱۳۸۸ کال د زمرې مياشت، ملاتړ، چال چلند، دندې، وګړ پيژندنه: ولې افغانانو په ۱۳۸۸ کال کې رايې ورکړې، د نوح کوبرن او انالارسن ليکنه.

www.areu.org.af/index.php?option=com_docman&Itemid=26&task=doc_download&gid=690 277 KB.

د کابل په ولايت کې د ۱۳۸۸ کال د ولسمشرۍ او ولايتي شوراګانو په ټولټاکنو کې د خلکو د ګډون او علاقې کچه د څه شي څرګندونه کوي؟ که څه هم ځيني رايه ورکوونکې د ملي وجيبې احساس او په ډموکراټيک بهير کې د ګډون هيلې هڅولې وو، او زياتره رايه ورکونکو د بېلابېلو نورو دليلونو له کبله يې رايې ورکولو کې برخه واخيسته. دغه رپوټ استدلال کوي چې د کابل په ولايت کې د رايې ورکونې په لارو چارو د پوهيدو لپاره د ټولنيز فشار، مادي هڅونکو، د ټولنې د پياوړتيا د څرګندولو د هيلې او د خپل د خوښې نوماند د بريا هيله هم بايد په پام کې ونيول شي.

د ۱۳۸۸ کال د چنګاښ مياشت، د خپل هيواد په لټه کې: د پولو تر منځ ستونزې د پاکستان او ايران څخه هيواد ته د ځوانو را ستنيدونکو افغانانو تجربې، د مميکو سايتو ليکنه.

www.areu.org.af/administrator/index2.php?option=com_docman&section=documents&task=download&bid=86 1.9 MB.

او سمهال شاوخوا ۲.۷ میلیونه افغان کډوال لا تر اوسه په پاکستان او ایران کې ژوند کوي چې ډیری یې هغه کسان دي چې ځایه توب دوهم او آن دریم نسل دي. دغه څېړنه د ۱۹۹ غوره شوو کسانو سره د مرکو پربنسټ چمتو شوې ده او خپل وطن ته د بېرته راستنېدو په اړه د پریکړه کولو په پیچلتیاوو، پاکستان، ایران او افغانستان سره د تړاو پر اغیزو، او همدارنګه د بیا راستنېدونکو په لړو ځرګندو ټولنیزو او احساساتي تګ کرښو تمرکز کوي چې د دغو موضوع ګانو ترمنځ مهمې او د پام وړ اړیکې او د بېرته راګرځېدو مادي ننګونې په ځان کې رانغاړي. په رسمي جریده کې خپاره شوي قوانین

## په رسمي جریده کې خپاره شوي قوانین

۹۴۲ د ۱۳۸۷ کال د وري د میاشتې ۲۵مه نېټه د تنباکو د کنترول په اړه د روغتیا د نړیوال سازمان د کاري چوکاټ د کنوانسیون په هکله د ولسمشر (د ۲۸/۱۰/۱۳۸۷ نېټې د ۱۳۵ګڼه) فرمان

۹۴۲ د ۱۳۸۷ کال د وري د میاشتې ۲۵مه نېټه د تنباکو د کنترول په اړه د روغتیا د نړیوال سازمان د کاري چوکاټ د کنوانسیون په هکله د ولسمشر (د ۲۸/۱۰/۱۳۸۷ نېټې د ۱۳۵ګڼه) فرمان

۹۵۱ د ۱۳۸۷ کال د چنګاښ د میاشتې ۱۲مه نېټه د ملکي مامورینو د قانون په یو شمېر مادو کې تعدیلات

د ۱۳۸۷ کال د چنګاښ د میاشتې ۳۱مه نېټه د سوداګریزو اسنادو او سوداګریزو نښو ثبت

۹۵۲ د ۱۳۸۷ کال د زمري د میاشتې ۵مه نېټه د لیکوالانو، تصنیف جوړونکو، هنرمندانو او څېړونکو د حقونو د ملاتړ قانون (د چاپ قانون) د مخترعینو او کاشفینو د حقوقو څخه ملاتړ

۹۶۳ د ۱۳۸۷ کال د لړم د میاشتې ۲۹ مه نېټه د درملو قانون د افغانستان د علومو د اکاډمۍ د ټاکنو په اړه د علومو د اکاډمۍ مقرره

د وزیرانو شورا د ۲/۲/۱۳۸۷ د ۵ ګڼې مصوبه د افغانستان د اسلامي جمهوریت د وزیرانو د شورا د (۲۲/۵/۱۳۸۵ نېټې) د ۵مې ګڼې مصوبې د پریکړې په هکله

۹۶۴ د ۱۳۸۷ کال د لړم د میاشتې ۳۰ مه نېټه د سوداګریزو اسنادو او سوداګریزو نښو د ثبت قانون

۹۶۵ د ۱۳۸۷ کال د مرغومی د میاشتې ۲۵مه نېټه د نوځوانانو د اصلاح او بیا رغونې د مرکز قانون

۹۶۸ د ۱۳۸۷ کال د مرغومی د میاشتې ۱۵مه نېټه د موافقو د توشیح په اړه د ولسمشرۍ د ریاست فرمان

د پاسپورت د قانون د ځینو بندونو ځنډول او د خصوصي او د محدودو مسوولیت درلودونکو شرکتونو د جواز په ۱۱۰ مه ماده کې د تعدیل په اړه د ولسمشرۍ د ریاست فرمان

د هوائي ترانسپورت د خصوصي شرکتونو د تأسیس مقررې

۹۷۰ د ۱۳۸۷ کال د سلواغې د میاشتې ۳۰مه نېټه د سوداګریزو اسنادو او سوداګریزو نښو ثبت

۹۷۱ د ۱۳۸۷ کال د سلواغې د میاشتې ۵مه نېټه د معاملې وړ اسنادو قانون د ولسمشر (۱۴۲ ۲۹/۱۰/۱۳۸۷ ګڼه) فرمان

۹۷۲ د ۱۳۸۷ کال د سلواغې د میاشتې ۱۳مه نېټه د تیلو او ګازو (هایدروکاربن) قانون د طبیعی زیرمو قانون

۹۷۳ د ۱۳۸۷ کال د سلواغې د میاشتې ۳۰مه نېټه د سوداګریزو اسنادو او سوداګریزو نښو ثبت

۹۷۵ د ۱۳۸۷ کال د کب د میاشتې ۱۵مه نېټه د افغانستان د اسلامي جمهوریت د ستري محکمې مقررې

۹۷۶ د ۱۳۸۷ کال د کب د میاشتې ۲۸مه نېټه د عایداتو څخه لاس ته راغلې مالیاتو قانون

۹۷۷ د ۱۳۸۷ کال د کب د میاشتې ۲۸مه نېټه د سوداګریزو اسنادو او سوداګریزو نښو ثبت

۹۸۰ د ۱۳۸۸ کال د غویي د میاشتې ۶مه نېټه د اوبو قانون

۹۸۴ د ۱۳۸۸ کال د چنګاښ د میاشتې ۳۱مه نېټه د سوداګریزو اسنادو او سوداګریزو نښو ثبت

۹۸۸ د ۱۳۸۸ کال د زمري د میاشتې ۵مه نېټه د شعیه مذهبو د شخصي احوالو قانون (چې یو ډېر زیات شمیر تعدیلات په وروستۍ پاڼه کې په ځان کې رانغاړي)

۹۵۱ د ۱۳۸۷ کال د چنګاښ د میاشتې ۱۲مه نېټه ملکي مامورینو د قانون په یو شمېر مادو کې تعدیلات

د افغانستان څېړنیزه خبر پاڼه د افغانستان د څېړنې او ارزونې د ادارې دری میاشتنۍ خپرونه ده. د دغه خبرپاڼې موخه داده چې لوستونکي د نوو څېړنو څخه چې په افغانستان کې په لاره اچول کیږي خبر کړي او همدارنګه د څېړنې موندنې او پایلو د ریپوټونو په ویشلو او خپرولو کې مرسته وکړي. ځینې د یادو شویو منابعو څخه د انټرنیټ په پاڼه د لاسرسۍ وړ دي؛ زیاتره کتابونه او نورې خپرونې د دغه ادارې په کتابتون کې موجودې دي، نوموړی کتابتون د دغه ادارې په دفتر (د ګل فروشۍ کوڅه، د دوهمې کوڅې ګوټ) کې موقعیت لري او د یکشنبه څخه تر پنجشنبه پورې د سهار د ۹ بجو څخه تر ۱۲:۳۰ او د ماسپښین د ۱ بجې څخه تر د مازدیګر ۴ بجو پورې د څېړونکو پرمخ پرانستی دی. دغه خبر پاڼه د رویس وایلز لخوا تصنیف، د ماري شیرزاد لخوا تصحیح او د عبدالوکیل وسیم دیزاین شوې. که چیرې تاسو د کتابونو یا نورو خپرونو یا سرچینو په اړه وړاندیزونه لرئ چې باید په خبر پاڼه کې اضافه شي، نو هیله کیږي چې دغه بریښنا پتې ته بریښنالیک را واستوئ: newsletter@areu.org.af

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره (AREU) په کابل کې میشته یوه نا پیلې څېړنیزه اداره ده. ددې ادارې دنده د لوړ څرنګوالې درلودونکې څېړنو له لارې پرپالیسۍ او چارو مثبتې اغیزې درلودل دي. همدا راز نوموړې اداره هڅه کوي څو په افغانستان کې د څېړنې او زده کړې کلتور ته د تحلیلي ظرفیت د پیاوړې کولو او د فکرونو او بحثونو د آسانولو له لارې په فعاله توګه وده ورکړي. ددې ادارې اصلي موخه دڅېړنې له لارې د افغانانو د ژوند د ښه والې دی.

نوموړې اداره په ۱۳۸۱ المریز کال په افغانستان کې د بوختو مرستندویه ټولنو په مرسته په کار پیل وکړ او د یو مدیره هیات درلودونکې دی چې د بسپنه ورکونکو ټولنو له خوا لکه ملګرې ملتونه او نورو څو اړخیزو ادارو، او نا دولتي ادارو له خوا یې استازیتوب کیږي. نوموړې اداره اوس مهال خپله اصلي بودجه د فنلند، ناروی، سویډن، سویزرلند او د انګلستان د حکومتونو څخه تر لاسه کوي. ددې ادارې ځانګړې پروژې د افغانستان د پرانیستې ټولنې د انستیتیوت (FOSIA)، آسیایي بنیاد (TAF)، اروپایي کمیسیون (EC)، د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمیشنري (UNHCR)، د ملګرو ملتونو د ماشومانو وجهي صندوق (UNICEF)، د ښځو لپاره د ملګرو ملتونو پراختیایي صندوق (UNIFEM)، او نړیوال بانک له خوا یې مالي ملاتړ کیږي.

دلازیاتو معلوماتو او ددغه د ادارې د خپرونو د پي ډي ایف کاپیانو لپاره دا ویب پاڼه وګورئ: www.areu.org.af